
2 017550 139621


کتاب

۴ مخ

## څلوېښت کاله په توپان کې

دا کتاب د کرزي او کابینې ترمنځ یې د بې باوریو، له امریکا سره د امنیتي تړون، بګرام زندان او ځینو نورو مهمو مسایلو په اړه جالبې خبرې لري.




مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د وږي شپږمه | د ۲۰۱۹ د اګسټ ۲۸مه | ٤٤۲مه ګڼه

# د دوحې مذاکرات؛

## تر اوږدو بحثونو او خبرو وروسته د طالبانو او امریکا توافق نهایي شوی دی



۳

د امریکا او طالبانو
له توافق وروسته
۲ مخ

د افغان سولې بهیر؛
له پیله تر دې دمه
۲ مخ

د بازارموندنې مفهوم،
اهمیت او تاریخچه
۳ مخ

## په هلمند کې څه باندې ٢٤ زره ټنه انار راټول شوي دي



د هلمند د کرنې ریاست مسوولین وایي، په دغه ولایت کې د انارو ۱۷ ډولونو ښې پایلې او حاصلات ورکړي چې ترې څه باندې ٢٤ زره ټنه انار تر لاسه شوي دي.

خو بل لور ته بیا بڼوال شکایت کوي چې د انارو د روزلو په برخه کې حکومت له دوی سره اړینه همکاري نه ده کړې.

د دغو بڼوالو له ډلې څخه د نادعلي ولسوالۍ اوسېدونکي ګلاب شاه پژواک ته ویلي: «ډېر حاصل مو ترې تر لاسه کړی، خو څه وکړو چې هېڅ بازار نه لري، حکومت نه په دې او نه هم د روزلو په برخه کې یې همکاري کوي».

دغه راز په دغه ولایت کې د مېوه لرونکو کسانو ټولنې مشر احمدشاه پژواک ته ویلي چې په دغه ولایت کې د انارو ۳۰ ډولونه تجربه شوي چې ۱۷ یې ښه حاصلات ورکړي دي.

## سرچینې: په ټاکنو کې استعمالېدونکې بایومټریک دستګاوې تخنیکي ستونزې لري

په ټاکنو خپلواک کمېسیون کې سرچینې وایي چې په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې استعمالېدونکې بایومټریک دستګاوې تخنیکي ستونزې لري. په دغه کمېسیون کې ځینې سرچینې چې د موضوع د حساسیت له امله نه غواړي نوم یې واخیستل شي، وایي چې دغه بایومټریک دستګاوې، قلف نه لري او د رای اچونې له ورځې وړاندې هم ترې ګټه اخیستل کېدای شي. د سرچینې په خبره، د تکراري رایو د استعمال نه مخنیوی او د عکسونو نه تشخیصېدل د دغو دستګاوو دوه نورې عمده ستونزې دي. په همدې حال کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون مرستیال عصمت‌الله مل یادې تخنیکي ستونزې مني، خو وایي چې ژر به حل شي. دی وایي، د دغه دستګاوو واردوونکې کمپنۍ «درملوګ» سره د کمېسیون تخنیکي ټیم پر همدغو ستونزو کار کوي. مل زیاتوي: «د درملوګ کمپنۍ انجنیران او زموږ تخنیکي ټیم په همدې ستونزو کار کوي او هڅه کوو چې ژر دا ستونزه پای ته ورسېږي». دا په داسې حال کې ده چې تازه د ټاکنو خپلواک کمېسیون نړدې ۱۷ زره نوې بایومټریک دستګاوې رانیولې چې له پخوانیو ۲۲ زره سره یې شمېر ۳۹ زره دستګاوو ته رسېږي. د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د معلوماتو په اساس، اوسمهال د دغو دستګاوو بسته بندي روانه ده او د روانې سنبلې میاشتې په اتمه نېټه به یې ولایتونو ته استول پیل شي.

په همدې حال کې د افغانستان د شفافو انتخاباتو بنسټ یا ټیفا وایي، که د انتخاباتو خپلواک کمېسیون په بایومټریک دستګاوو کې د موجوده ستونزو په حل کولو ونه توانېږي، نو پراخو درغلیو او ګډوډیو ته به زمینه برابره کړي.

## له افغانستانه د ځواکونو د وتلو لپاره بېړه نه لرو او نه په دې اړه مهالوېش شته



۳ مخ

## در ۹٦ مرکز رای دهی در هرات انتخابات برگزار نمی‌شود



مسئولان کمیسیون ولایتی انتخابات هرات می گویند که به دلیل ناامنی‌ها و مشکلات دیگر، انتخابات ریاست جمهوری در ۹٦ مرکز رای دهی این ولایت برگزار نمی‌شود.

به تازگی گزارشی از سوی رسانه‌ها مبنی بر مسدود بودن ۱٦۲ مرکز رای دهی در هرات به نشر رسیده است؛ اما رئیس کمیسیون ولایتی انتخابات هرات می گوید که انتخابات، تنها در ۹٦ مرکز برگزار نمی شود. رئیس کمیسیون ولایتی انتخابات هرات داوود صدیق‌زاده، به آژانس خبری پژواک گفت که این مراکز در ولسوالی‌های شیندند، کشک رباط سنگی، ادرسکن، چشت، فارسی وگلران موقعیت دارند.

صدیق زاده افزود که انتخابات در ولسوالی‌های زیرکوه و پشت کوه هرات، به دلیل عدم ثبت نام مردم، برگزار نخواهد شد.

با این همه رئیس کمیسیون مستقل انتخابات هرات تأکید دارد که آنان، برای حضور بیش از پنج‌صد هزار رای دهنده در انتخابات ریاست جمهوری در این ولایت، آماده گی دارند.

والی هرات، به تأمین امنیت مراکز رای دهی در روز انتخابات تأکید کرده و گفت که نیروهای امنیتی، توانایی تأمین امنیت این مراکز را دارند.

عبدالقیوم رحیمی گفت: «پلان گذاری نیروهای امنیتی ما تکمیل است و نهایت کوشش ما این است که در سه صد مرکز رای دهی که قبلاً انتخابات برگزار شده، باز هم انتخاب برگزار شود».

از سوی هم مقام‌های امنیتی هرات، از تأمین امنیت مراکز رای‌گیری در این ولایت اطمینان می‌دهند. امین‌الله امرخیل قوماندان امنیه پولیس هرات گفت که در هر مرکز رای‌گیری، پنج الی ۱۵ نیروی امنیتی گماشته خواهند شد.





باچا خان مکتب د افغانستان د پوهنیز بهیر ښوونیز او روزنیز بنسټ دی، یاد مکتب اوس له نرسرۍ تر شپږم ټولګي د زده کوونکو د روزنې لپاره بشپړ او منل شوي امکانات لري.

په باچاخان مکتب کې د هېواد د تعلیمي نصاب ترڅنګ د اکسفورډ نړیوال سیستم هم پلی کېږي.

نن زده کړه، سبا رهبري وکړه! | امروز بیاموز، فردا رهبری کن! | LEARN TODAY, LEAD TOMORROW!

د کابل ښار دربیمه ناحیه، د دهبوري پارک شا ته دویمه کوڅه
(+) 93 785 92 93 94
Bacha Khan School
Bacha Khan School

باچا خان مکتب
باچا خان مکتب
BACHA KHAN SCHOOL

- نوښت
- د متفاوت تدریس بېلګه
- د سوله خوښو شخصیتونو آیډیال کېدل
- د رهبرۍ مهارتونه پر هنرونو اړول
- زده کړو ته د روښانه لیدلوري لرل

## دریـځ

### د امریکا او طالبانو له توافق وروسته

طالب او امریکایي استازي پرون په قطر کې د سولې د پیل شوو خبرو په وروستیو کې وو. ویل کېدل چې پرون ناوخته به هر څه وروستي شي او دواړه اړخونه به توافق وکړي. دا چې د دې توافق رسمي لاسلیک به هم اوس کېږي او که نه، په دې اړه څه نه دي ویل شوي، خو امریکایي استازی زلمی خلیلزاد به کابل ته راشي او دلته به د حکومت په ګډون له ځینو لورو سره وګوري. هڅه به دا وي چې وښودل شي خلیلزاد د شوي توافق جزیات شریکوي او له دې اړخ څخه هم تر رسمي لاسلیک وړاندې موافقه اخلي.

د دغه توافق د جزیاتو په اړه معلومات نشته. له یوه اړخه خلک دغه توافق ته خوشاله دي، ځکه چې دا د جګړې د ختمولو لپاره یو مهم ګام ګڼل کېدای شي. که دا هوکړه عملي شي، د جګړې د ختمېدو شونتیا زیاته او دغه راز امریکایي ځواکونه به له افغانستان څخه وځي، چې دا د خلکو د هرکلي سبب کېږي. له بله اړخه خلک اندېښنې او شکونه هم لري. د اندېښنو او شکونو څو لاملونه دي، خو تر ګردو ستر لامل یې دا دی چې لا هم ډېر خلک نه پوهېږي چې طالبانو او امریکایانو نهه پړاوه پر څه خبرې وکړې، پر څه یې اختلاف و، څه بدلونونه راغلل او بالاخره توافق پر څه وشو. کله چې معلومات نه وي، په طبیعي ډول اندېښنې را پورته کېږي. له بله اړخه ځینې داسې رپوټونه شته چې که رښتیا وي، د اندېښنې وړ دي. ویل شوي چې طالبان به له امریکا سره د وتلو پر مهال اوربند کوي، خو د جګړې له افغاني اړخ یا اړخونو سره به اوربند نه کوي. دا رښتیا هم د جدي اندېښنې وړ ده او خومره ژر چې کېږي، روانه جګړه باید قطع شي. له بله اړخه د امریکا پر نیت، اراده او پلانونو شکونه دي، ځکه چې له یوه اړخه امریکایي چارواکي متضادې خبرې کوي او له بله اړخه امریکا د تعهد او تړون ماتولو اوږد تاریخ لري. له همدې امله دا اندېښنه شته چې امریکا به له توافق او رسمي لاسلیک سره سره دسیسې جوړوي او هڅه به کوي چې شوی توافق نقض کړي او ستونزې پیدا کړي.

په هر حال، د امریکا او طالبانو ترمنځ توافق یو مهم پرمختګ دی، خو اوس پکار ده چې د بین الافغاني خبرو د پیل، دوام او بریا لپاره هلې ځلې وشي. که د بین الافغاني خبرو په برخه کې ستونزې وي، یا ښایي امریکا وغواړي ستونزې پیدا کړي، نو بیا به یې مسوولیت هم زموږ پر غاړه وي. له همدې امله سر له اوسه باید د بین الافغاني خبرو لپاره تیاری وي. طالبان او هغوی چې له طالبانو سره خبرو ته کښېني، باید ټوله روحیه یې دا وي چې دا خبرې بریالی شي. دواړه اړخونه باید له خپله اړخه تېربدنې او قرباني ته تیار وي. دغه راز په ټولو لورو د یو پراخ ولسي فشار اړتیا هم شته چې د بین الافغاني خبرو د بریا لپاره موثر تمامېدلی شي. هغوی چې د خبرو برخه نه دي، پکار ده چې د دغه ولسي فشار د جوړولو او د بین الافغاني خبرو د بریا لپاره کار وکړي.

## د افغان سولې بهیر؛
# له پیله تر دې دمه

لیکنه: هارون شفیقي/ بي بي سي- لندن

**په دې لیکنه کې په تېرو ۱۲ کلونو کې د افغان سولې بهیر ته کتنه شوې ده**

د افغان سولې مزل اوږد او له لوړو او ژورو ډک دی. تر دې دمه بېلابېلې پروسې د ګاونډیو، نږدې او لرې هېوادونو پر هڅو ولاړې وې، خو تر ډېره یې پایله ځکه نه درلوده چې د امریکا متحده ایالات یا خو ورته چمتو نه وو او یا یې جدي نه ګڼله.

له هغه راهیسې چې دوی له طالبانو سره د قطر په دوحه کې خبرې پیل کړې، چې دا دي نهم پړاو یې اوس روان دی، دا خبرې اوږدې او د ټولو هیلې ورته ټوکېدلې دي. په دې لیکنه کې په تېرو ۱۲ کلونو کې د افغان سولې بهیر ځینو مهمو برخو او پېښو ته اشاره شوې:

**افغانستان؛ د سولې اوږد مزل**

په کابل کې د امن ګډه جرګه جوړه شوه. ګډونوال یې د افغانستان او پاکستان د قبایلي سیمو اوسېدونکي او له دواړو هېوادونو مخور سیاستوال وو، د دریو ورځو په اوږدو کې د امن ګډې جرګې په یوه اعلامیه کې ترهګري وغندله او د پراخو خبرو او جوړجاړي لپاره یې غږ پورته کړ.

**اوباما افغانستان ته پوځیان واستول**

نوي ټاکل شوي امریکایي ولسمشر بارک اوباما په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو شمېر یو لکو ته ورساوه او اعلان یې وکړ چې دغه پوځیان به د ۲۰۱۱ ز کال له جولای وروسته بېرته له افغانستانه ووځي. ناټو هم ۴۰ زره نور پوځیان افغانستان ته واستول او د ۲۰۱۰ ز کال په نومبر کې یې پرېکړه وکړه، چې دوی به په تدریجي ډول له افغانستانه ووځي او د ۲۰۱۴ ز کال په پای کې به د افغانستان امنیت افغان ځواکونو ته وسپاري.

**د سولې عالي شورا پیلامه**

د ولسمشر حامد کرزي د دویم ځل ولسمشرۍ ټاکنو تر ګټلو وروسته، د ۲۰۱۰ ز کال په جون میاشت کې د ۱۶۰۰ کسانو په ګډون، د سولې ملي مشورتي جرګې کابل کې د سولې د خبرو لپاره د سولې عالي شورا جوړېدو وړاندیز وکړ. طالبانو او حزب اسلامي په دې جرګه کې ګډون ونه کړ او دغه پروسه یې بې ارزښتنه وګڼله.

**د برهان الدین رباني وژنه**

د سولې عالي شورا مشر برهان الدین رباني او د دې شورا څلور نور غړي په یوه ځانمرګي برید کې ووژل شول. د ۲۰۱۲ ز کال په مې میاشت کې د سولې عالي شورا مرستیال ارسلا رحماني هم په کابل کې د نامعلومو کسانو له لوري ووژل شو. طالبانو ووېل چې د سولې عالي شورا غړو په وژنو کې لاس نه لري.

**طالبانو ته په قطر کې دفتر پرانیستل شو**

د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو سیاسي دفتر پرانیستل شو. امریکا اعلان وکړ چې دوی به مخامخ له طالبانو سره خبرې وکړي. ولسمشر حامد کرزی د امریکا او طالبانو دغو مخامخ خبرو او طالبانو ته د سیاسي استازولۍ په ډول پر دفتر پرانیستو باندې غصه څرګنده کړه. د طالبانو له لوري د اسلامي امارت د بیرغ او نښان کارولو پر خلاف ولسمشر اعتراض وکړ او له همدې سره د قطر دفتر هم له لنډې مودې وروسته وتړل شو.

**د بندیانو تبادله؛ برګدال او پنځه طالب مشران**

په افغانستان کې د امریکا یوازینی جنګي بندي بو برګدېل د قطر د حکومت په منځګړیتوب او د پنځو طالب بندیانو په بدل کې راخوشی شو.

بو برګدېل د افغانستان په سویل کې له نظامي مرکزه وتلی او ببېدرکه و، وروسته د طالبانو لاس ته ورغی او له هغوی سره څو کاله بندي و. د امریکا حکومت یې په بدل کې له ګوانتانامو زندانه پنځه لوړ پوړي طالبان خوشي کړل.

**د ولسمشریزو ټاکنو ناندرۍ**

په ولسمشریزو ټاکنو کې هېڅ کاندید هغومره رایې تر لاسه نه کړې، چې په لومړي پړاو کې بریالی اعلان شي. مخکښ نوماندان اشرف غني او عبدالله عبدالله دویم پړاو ته لاړل.

د ټاکنو کمېسیون د ټاکنو د دویم پړاو د رایو بیا شمېرنه پیل کړه. له دوو میاشتو تفتیش وروسته د کړکېچن حالت د حللارې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري څو ځله کابل ته په سفر راغی.

له څو میاشتو کړکېچن حالت وروسته چې د کورنۍ جګړې وېره هم ورسره وه، د نوماندانو تر منځ د واک د شریکولو او د ملي یووالي حکومت جوړولو هوکړه وشوه. محمد اشرف غني ولسمشر او عبدالله عبدالله اجراییه رییس اعلان شول.

**ناټو د عملیاتو ماموریت پای ته ورساوه**

ناټو رسماً په افغانستان کې د مخامخ جګړې ماموریت پای ته ورساوه او د ۲۰۱۵ ز کال له جنوري یې نوی ماموریت او غوځ ملاتړ پیل کړ، چې تر ډېره یې موخه د افغان ملي ځواکونو روزل دي.

**پګواش ادارې د سولې په موخه په قطر کې خبرې پیل کړې**

د طالب مرکچیانو او افغان سیاستوالو تر منځ په قطر کې خبرې پیل شوې. خبرې د نړیوالې څېړونکې ادارې پګواش له لوري تنظیم شوې وې. د دې خبرو په لړۍ کې دویم ځل ناسته د ۲۰۱٦ ز کال په جنوري کې وشوه.

**د پاکستان په مري کې لومړی ځل طالبانو او افغان لوري خپلو کې سره خبرې وکړې**

د طالبانو او افغان چارواکو تر منځ خبرې د مرۍ پروسې په نوم، اسلام اباد ته څېرمه په مري کې پیل شوې. د مري پروسې خبرو پیل افغان سولې ته هیله مندي زیاته کړه. داسې برېښېده چې پاکستان لومړی ځل طالبان مخامخ له افغان چارواکو سره خبرو ته کېنول. دې خبرو کې پاکستان، چین او د امریکا متحده ایالاتو هم برخه درلوده. د مري پروسې خبرو دویم پړاو هم پلان شوی و، خو د طالبانو د مشر ملا محمد عمر د مړینې له اعلان سره خبرې ګډې وډې شوې.

**د ملا عمر مړینه اعلان شوه**

طالبانو ومنله چې د دوی مشر ملا عمر څو کاله پخوا مړ شوی. ملا اختر محمد منصور یې ځای ناستی وټاکل شو. له دې خبر سره د طالبانو تر منځ خپلمنځي ستونزې ډېرې شوې، د ۲۰۱۵ ز کال په نومبر کې د ملا محمد رسول په نامه یوه مشر د طالبانو بېله ډله اعلان کړه. ملا اختر منصور هم د ۲۰۱٦ ز کال په مې کې په پاکستان کې د امریکا د بې پیلوټه الوتکې په برید کې ووژل شو. مولوي حیبة الله اخندزاده د ملا منصور ځای ناستی ونومول شو.

**د سولې څلور اړخیزې غونډې**

د افغانستان، پاکستان، چین او امریکا متحده ایالاتو استازي په اسلام اباد کې سره راټول شول چې له طالبانو سره د خبرو پر میکانیزم کار وکړي. په دې غونډې کې د څلور اړخیزې همغږۍ کمیټه جوړه شوه. دې خبرو څلور پړاوه دوام وکړ، دوی په کابل، بیجینګ او اسلام اباد کې بیا سره کېناستل، خو کومه څرګنده پایله یې نه درلوده.

**کابل ته د حکمتیار راستنېدنه**

له کلونو مذاکراتو او په پای کې یې له یوه جوړجاړي وروسته، د ملي یووالي حکومت او د حزب اسلامي تر منځ د سولې تړون وشو. ګلبدین حکمتیار د ۲۰۱۷ ز کال په مې میاشت کې کابل ته راستون شو.

**ولسمشر ټرمپ او د جګړې د پای هڅه**

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له طالبانو سره د جګړې لپاره افغانستان ته د نورو پوځیانو استول اعلان کړل. په ورته وخت کې یې د جنوبي اسیا لپاره خپله تګلاره اعلان کړه، په دې تګلاره کې پاکستان ګوښه شوی ښکارېده. افغانستان د دې تګلارې هرکلی وکړ. په نوې تګلاره کې د ټرمپ د ادارې تاکید پر جګړه و او د ملت جوړونې او افغانستان بیارغونه هغه ټکي وو، چې ترې لرې شوي وو.

**د هلمند سولې کاروان هیلې راوټوکولې**

له تاوتریخوالي زړه تورو، د هلمند جګړه ځپلو د سولې پرلت پیل کړ. د دوی په بدرګه په ۱٦ نورو ولایتونو کې هم ورته کار وشو. د هلمند د سولې کاروان د جګړې له ښکېلو غاړو د سولې دې پروسې کې ګډون وغوښت. دوی له هلمنده تر کابله او له کابله تر مزاره پلی مزل پیل کړ، په لاره کې جوپه جوپه خلک ورسره یو ځای شول.

**د سولې خبرې په مسکو کې**

د ځینو هېوادونو استازو په مسکو کې د افغان سولې کانفرانس کې ګډون وکړ. د طالبانو د قطر دفتر غړي او د افغانستان د حکومت له لوري د سولې عالي شورا مرستیال په دې کنفرانس کې ګډون درلود. خبرو کې د امریکا د مسکو سفارت استازیو هم ګډون کړی و.

**امریکا او طالبانو په عربي اماراتو کې سره ولیدل**

د امریکا او د طالبانو تر منځ د لومړي ځل لپاره مخامخ او رسمي خبرې د متحده عربي اماراتو په پلازمېنه ابوظبۍ کې وشوې. خبرو کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازي زلمي خلیلزاد ګډون درلود. د افغان حکومت د ملي امنیت سلاکار هم کنفرانس ته د ګډون لپاره تللی و، خو طالبانو له افغان پلاوي سره له لیدو انکار وکړ.

**د سولې خبرو اوږد مزل په قطر کې پیل شو**

د طالبانو او امریکا تر منځ د قطر په پلازمېنه دوحه کې د شپږو ورځو لپاره د لومړي ځل لپاره خبرې پیل شوې. دا د اتو پړاوونو لومړی هغه و. دې وښودله چې امریکا په افغانستان کې له طالبانو سره د سولې خبرو ته جدي ده. دا ناستې د همدې کال فبروري، اپرېل، جون، جولای او اګست میاشتو کې هم رواني وې.

**بین الافغاني خبرې له مسکوه تر دوحې**

بین الافغاني خبرې مسکو کې وشوې. د افغانستان سیاستوالو او پخوانیو چارواکو پکې ګډون درلود. د طالبانو له لوري د قطر د دفتر مشر عباس ستانکزي او پلاوي یې ورسره ګډون درلود. د دې خبرو دویم پړاو بیا په مې میاشت کې وشو. دا لومړی ځل و چې د طالبانو د قطر دفتر ته نوی ټاکل شوی مشر ملا عبدالغني برادر د رسنیو پر وړاندې راڅرګند شو.

په جولای کې د دغو بین الافغاني خبرو یو بل پړاو دا ځل د جرمني او قطر هېواد په کوربه‌توب د قطر په دوحه کې تر سره شو. دا ځل د افغان حکومت ځینو چارواکو هم په دې خبرو کې ګډون درلود.

**د سولې لویه جرګه؛ د ګډ غږ غبرګول**

افغان ولسمشر اشرف غني څلور ورځنۍ لویه جرګه پرانیستله، د ۳۲۰۰ شاوخوا ګډونوالو د دې جرګې موخه له طالبانو سره د خبرو لپاره اجنډا ټاکل وو. ځینو لوړپوړو افغان سیاستوالو په جرګه کې ګډون ونه کړ. طالبانو هم د جرګې پروسه او پایلې بې اغیزې او بې مانا وبللې.

**په قطر کې د سولې خبرو اتم پړاو**

طالب مرکچي ډلې او امریکایانو د قطر پلازمینې دوحه کې د اتم ځل لپاره ولیدل او دواړو لوریو ووېل چې په ډېرو مادو بحث پای ته رسېدلی او تړون ډېر نږدې دی. طالب ویاند سهیل شاهین او امریکایي استازي زلمي خلیلزاد دواړو پر خپل ټویټر د مثبتو خبرو یادونه وکړه.

طالبانو ووېل، له امریکا سره له تړون وروسته به له افغان لوري سره بین الافغاني خبرې پیلوي. انګېرل کېده چې د دغو خبرو کوربه به کوم اروپایي هېواد وي. په پیل کې ناروې هېواد هوډ ښودلی و چې دوی به په پلازمېنه اوسلو کې د افغان حکومت له لوري ټاکل شوي پلاوي او د طالبانو کوربه وي. خو دا خبر تایید شوی نه دی.

په دې وروستیو کې نهم پړاو خبرې پیل شوې دي. تمه کېږي چې دا ځل به طالبان او امریکا تړون لاسلیکوي او د افغانانو تر منځ خپلمنځي خبرو ته به لار برابروي.

## سرچینې: په پېښور کې د افغان دولت د میلیونونو ډالرو په ارزښت ځمکه له لاسه وځي

د خیبر پښتونخوا په پېښور ښار کې د افغان دولت د ملي بانک اړوند، د لسګونو میلیونو ډالرو په ارزښت ځمکه له لاسه د وتلو په حال کې ده.

د پېښور ښار د فردوس په سیمه کې د افغان ملي بانک په نوم د افغانستان د دولت اړوند مارکېټ دی، چې په درې جریبه ځکمه کې جوړ شوی دی.

د سیمې د خلکو په خبره، دا ځمکه نږدې پنځوس میلیونه ډالر ارزښت لري او پکې لسګونه دوکانونه خلکو په خپله اباد کړي، خو د ځمکې کرایه افغان ملي بانک ته ورکوي.

د افغان ملي بانک یوې سرچینې چې د نوم له اخیستو یې ډډه کوله، پژواک ته ویلي چې هېیوال له ۱۱ سوه څخه تر ۱٦ سوه کلدارو د میاشتې کرایه ورکوي، که څه هم دا ډېره کمه ده، خو په دې توګه یې ځمکه ساتلې ده.

سرچینه وایي چې دا ځمکه د افغان دولت ده، خو ځایي خلکو پرې دعوه کړې ده.

سرچینې زیاته کړې، د لومړي ځل لپاره په ۱۹۷۱ ز کال کې پرې دعوه شوې وه او په افغانستان کې د جګړو له امله چا ورته پاملرنه نه ده کړې .

د سرچینې د معلوماتو له مخې، په ۱۹۸۹ ز کال کې په لومړنۍ محکمه کې دعوه کوونکي وګټله، بیا یې په ۱۹۹۸ ز کال په استېناف کې وګټله او په ۱۹۹۹ ز کال کې یې په اسلام اباد کې په ستره محکمه کې هم ګټلې ده. یادې سرچینې ویلي، اوس دغه خلک زور کوي چې دا ځمکه ژر قبضه کوي، خو د ملي بانک د پېښور دفتر مسوولینو مدافع وکیلان نیولي او د پاکستان له سترې محکمې یې غوښتي چې پر دې پرېکړې او دوسیې له سره غور وکړي. د سرچینې په خبره، دا قضیه پر دې شکل نه حل کېږي، باید د دولتونو په کچه افغانستان او پاکستان پر دې کار وکړي او د پلاوو په کچه پرې کار وشي.

د پاکستاني حکومت لخوا افغان کونسلګرۍ ته د دغه مارکېټ د خپلولو لپاره یوه اونۍ وخت ورکړل شوی، چې که په دې موده کې یې هم غم ونه خوړل شي، نو د تل لپاره به یې له لاسه ووځي او د پاکستان ملکیت به شي .

پژواک هغه مکتوب هم تر لاسه کړی چې په پېښور کې د افغانستان د ملي بانک لخوا د اګست میاشتې په لومړیو کې په کابل کې مرکزي بانک ته لېږل شوی دی.

په دغه مکتوب کې راغلي، چې د پاکستان امنیتي مسوولینو څو ورځې مخکې د افغان مارکېټ دوکانداران هم راغوښتي وو او د مارکېټ د تخلیې په اړه یې سلا مشورې کوې، د افغان ملي بانک یو پلاوی هم ورغلی و، خو هغوی ته یې اجازه ور نه کړه.

# د دوحې مذاکرات؛

## تر اوږدو بحثونو او خبرو وروسته د طالبانو او امریکا توافق نهایي شوی دی



د طالبانو او امریکا ترمنځ توافق نهایي شوی دی. د معلوماتو له مخې، د طالبانو او امریکا ترمنځ تېره ورځ په دوحه کې خبرې رواني وې او په دې خبرو کې د هوکړې ټول موارد نهایي شوي دي. تر دې وړاندې امریکا او طالبانو دواړو ویلي وو، چې په نهم پړاو مذاکراتو کې به د طالبانو او امریکا ترمنځ هوکړه نهایي او لاسلیک شي. خو اوس ویل کېږي چې هوکړه نهایي شوې ده؛ خو تر دې دمه د دواړو لورو ترمنځ لاسلیک شوې نه ده. سره له دې چې د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې لا هم له مرموز حالت سره مخ دي او له خلکو پټې مخ ته وړل کېږي، خو دواړه لوري د پرمختګ او مثبتو ګامونو د اوچتولو خبره کوي. طالبانو او امریکا تېره ورځ لس نیمې بجې په دوحه کې خبرې پیل کړې او سرچینو رسنیو ته ویلي چې دواړو لورو د سولې په لاسلیکېدونکې هوکړه کې راتلونکي موارد نهایي کړي دي. کابل نیوز ته یوې سرچینې ویلي چې طالبانو او امریکا هوکړه نهایي او د رسمي لاسلیک لپاره یې تیاره کړې ده.

سرچینه کاږي چې هوکړه به دلته نه؛ بلکې په یوه بل محفل کې چې په هغه کې به د هوکړې ضمانت کوونکي هم حاضر وي، لاسلیک کړل شي. سرچینه کاږي: ((دغه لومړنی توافقنامه ده، چې د دواړو خواوو ترمنځ لاسلیک کیږي، خو اصلي توافقنامه به په یوه ستره غونډه کې، چې نړیوال تضمین کوونکي به هم پکې ګډون لري، لاسلیک کیږي)).

بلخوا الجزیرې شبکې بیا د خپلو سرچینو په حواله لیکلي، چې امریکا او طالبانو یو بل ته ګډ ضمانتونه او ژمنې ورکړې دي. الجزیره دا هم وایي چې توافق د نهایي کېدو په حال کې دی، خو دواړو لورو پر یو لړ مهمو مسایلو هوکړه کړې ده. د سرچینې په خبره، طالبانو له امریکا سره ژمنه کړې چې دوی ته به د وتلو خوندي لارې برابروي او امریکایان به په امنه توګه کولی شي له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي. د دې تر څنګ، طالبانو دا ژمنه هم کړې چې هېچا ته به د بل چا پر وړاندې د افغان خاورې د کارولو اجازه ورنه کړي. سرچینه وايي: ((طالبانو په توافقنامه کې ژمنه کړې چې امریکایانو ته به د وتلو خوندي لاره ورکوي او ضمانتونه یې ور کړي، چې هیڅ ډلې ته به د چا خلاف د افغانستان د خاورې د استعمالولو اجازه نه ورکوي)).

د دې تر څنګ، طالبانو او امریکا پر نورو مواردو هم هوکړه کړې ده، خو ویلي یې دي چې د افغانستان د راتلونکي حکومت مسئله به په بین الافغاني مذاکراتو کې حل کېږي. وسله والو طالبانو تر دې وړاندې هم ویلي چې د اوربند او راتلونکي حکومت مسئله به په بین الافغاني مذاکراتو کې تعقیبوي؛ خو امریکا بیا په ځلونو ویلي چې له طالبانو سره به د اوربند په ګډون، پر ډېرو مواردو هوکړه کوي. خلیلزاد په ځلونو ټینګار کړی و، چې یا به له طالبانو سره پر ټولو مواردو هوکړه کېږي او یا به پر هېڅ مورد هم توافق نه کېږي.

بلخوا په افغان حکومت کې لا هم د بین الافغاني مذاکراتو لپار پر لېږل کېدونکي پلاوي اختلاف موجود دی. ویل کېږي چې تازه د ځینو کسانو نومونه له دغه لېست ایستل شوي او پر ځای یې نوي کسان اضافه شوي دي. د سولې په چارو کې د دولت وزارت بیا وایي، چې پلاوی نهایي شوی دی او دمګړی دغه پلاوی پر دې کار کوي، چې له طالبانو سره څه ډول د افغانانو او افغان حکومت په استازیتوب مذاکرات مخ ته یوسي.

## د سولې چارو وزارت: حکومتي پلاوی له طالبانو سره د خبرو لپاره چمتووالی نیسي



د افغان حکومت د سولې مرکچي پلاوی له طالبانو سره د سولې خبرو لپاره چمتووالی نیسي.

د سولې په چارو کې د دولت وزارت وايي، دغه ۱۵ کسیز پلاوی له څو ورځو راهیسې د یوې خیرونې په ترڅ کې په خپلو کې د ښې همغږۍ په خاطر سره بوخت دي.

د دغه وزارت ویاندې ناجیې انوري په دې تړاو ازادي راډیو ته ویلي: «د دې خیروني موخه دا ده چې هغوی [مرکچي پلاوی] د سولې خبرو لپاره ښه چمتووالی ولري، ترڅو دوی هلته هغه ډول چې د افغانستان د حکومت او خلکو غوښتنه ده، پر مخ لاړ شي».

که څه هم تر اوسه د دغه پلاوي نوملړ په رسمي توګه نه دی اعلان شوی، خو وړاندې له دې رسنیو ته د دغه ۱۵ کسیز پلاوي د ځینو غړو نومونه رسېدلي وو. په دغه نوملړ کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون رییس نادر نادري، د ولسي جرګې پخوانۍ غړې فوزیه کوفي او د سولې عالي شورا مرستیال عطاالرحمن سلیم په ګډون ۱۵ تنه شامل دي. په داسې حال کې چې د امریکایي پلاوي او طالبانو ترمنځ خبرې پای ته نه دي رسېدلې، خو افغان حکومت ویلي، په قطر کې د امریکا او طالب استازو ترمنځ د نهم پړاو خبرو پایلې ته سترګې په لار دی.

د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویاندې ناجیې انوري زیاته کړې، هر کله چې په قطر کې د امریکایانو او طالبانو ترمنځ نهم پړاو خبرې پای ته ورسېږي، افغان مرکچي پلاوی به له طالبانو سره وګوري. دا په داسې حال کې ده چې په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ازادي راډیو ته ویلي وو، چې د نهم پړاو تر خبرو وروسته به طالبان له افغان مرکچي پلاوي سره د یو طرف په توګه وګوري، نه د افغان دولت په استازیتوب. شاهین همدا شان په خپل یو تازه ټویټ کې ویلي چې تمه ده په نهم پړاو خبرو کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه لیک وروستي ټکي نهایي شي.

## ټرمپ: له افغانستانه د ځواکونو د وتلو لپاره بېړه نه لرو او نه په دې اړه مهالوېش شته



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي چې اوسمهال له افغانستان څخه د ځواکونو د ایستلو لپاره هېڅ ډول مهالوېش نشته.

نوموړي دغه څرګندونې په فرانسه کې د جي-۷ هېوادونو د غونډې په پای کې د یوې خبري غونډې پر مهال کړې دي.

هغه د امریکا او طالبانو ترمنځ په قطر کې د سولې روانو خبرو ته په اشارې سره ویلي: «زماني مهالوېش نشته. هر هغه څه چې دي، بېړه نه لرو».

دا په داسې حال کې ده چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد په قطر کې د طالبانو له استازو سره پر نهم پړاو مذاکراتو بوخت دی، هغه مذاکرات چې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل یې د بحث یوه برخه ده.

ټرمپ یو ځل بیا په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو رول سوله ساتونکی بللی او زیاته کړې یې ده: «په حقیقت کې له هر څه د مخه موږ په افغانستان کې سوله ساتی رول لرو. په لنډه موده کې په دې جګړه کې بریالي کېدای شو، خو موږ نه غواړو میلیونونه کسان ووژنو».

نوموړي دغه څرګندونې په داسې حال کې کړې، چې په قطر کې د امریکا او طالبانو ترمنځ نهم پړاو خبرې رواني دي او ویل کېږي، چې یوې هوکړې ته نږدې شوي دي.

د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین په ټویټر کې لیکلي، هڅه کېږي چې له امریکایي لوري سره وروستۍ هوکړې ته ورسېږي.

هغه زیاته کړې: «هڅه کوو چې د توافقنامې وروستي ټکي نهایي کړو».

دا په داسې حال کې ده چې ویل کېږي له امریکایي لوري سره د هوکړې تر لاسلیک وروسته به په څو ورځو کې بین الافغاني ناسته کېږي او په دې ناسته کې افغان حکومت د حکومت نه، بلکې د یوه سیاسي اړخ په توګه ګډون کوي.

## ټرمپ: په مناسبو شرایطو کې به د ایران له ولسمشر حسن روحاني سره وګورم




د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي چې په مناسبو شرایطو کې به د ایران له ولسمشر حسن روحاني سره وګوري.

نوموړي د فرانسې په بیاریتځ ښار کې د «جي- ۷» هېوادونو په سرمشریزه کې، روحاني یو عالي مذاکره کوونکی بللی دی.

هغه دغه راز ویلي، فکر کوي چې ولسمشر روحاني هم غواړي چې له ده سره وګوري.

ټرمپ همدارنګه ټینګار کړی، ایران نه شي کولای چې اټومي وسلې او بالیسټیک توغندي ولري.

نوموړي زیاته کړې: «واقعاً باور لرم چې ایران یو عالي هېواد اوسېدای شي او له ایراني سیال سره د لیدو لپاره ډېر ښه چانس شته».

د ولسمشر ټرمپ په خبره، پر ایران د امریکا بندیزونو سخت اغېز کړی دی.

ټرمپ زیاته کړې: «بندیزونه ایران ته سخت زیان رسوي. زه واقعاً نه غواړم دې داسې څه شاهد واوسم، واقعاً نه غواړم. هغوی ډېر ښه خلک دي. زه نه غواړم دا وضعیت ووینم، خو موږ نه شو کولای پرېږدو چې دوی اټومي وسله ولري، نو ځکه فکر کوم زموږ د لیدنې لپاره ښه چانس شته».

وروسته له هغې چې د امریکا ولسمشر په ۲۰۱۸ ز کال کې د ایران له اټومي تړون څخه د وتلو اعلان وکړ او پر تهران یې نوي بندیزونه ولګول، د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې د بل هر وخت په پرتله ترینګلې شوې دي.

هغه همدا راز زیاته کړې چې په څو اونیو کې د ایران له ولسمشر حسن روحاني سره لیدنه رښتینې ښکاري.

نوموړي ویلي چې د امریکا متحده ایالتونه له اټومي تړونه تر وتلو وروسته پر ایران د بندیزونو د لګولو لپاره غرامت نه ورکوي، خو زیاتوي چې ایران امتیاز تر لاسه کولای شي.

د ټرمپ دا څرګندونې داسې مهال دي چې د فرانسې ولسمشر امانوېل مکرون د ځینو ډیپلوماټیکو نوښتونو په ترځ کې هیله ښودلې، چې وکولای شي په راتلونکو اونیو کې د ټرمپ او روحاني ترمنځ د خبرو زمینه برابره کړي.

په ورته وخت کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف په مختصر او غیر منتظره توګه په «جي- ۷» سرمشریزه کې ګډون وکړ او موخه یې د تهران د اټومي پروګرام په اړه پر ډیپلوماټیک خنډ بحث و. په همدې حال کې د ایران ولسمشر حسن روحاني د ظریف دغه سفر او هم د امریکا د بندیزونو په نتیجه کې رامنځته شوي وضعیت ته په اشارې د دوشنبې په ورځ وویل، که وپوهېږي چې له یوه کس سره یې لیدنه نتیجه لرلی شي، نو دغه کار به وکړي، خو نوموړي په دې تړاو نور جزیات نه دي ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ایران ستر مذهبي مشر آیت الله علي خامنه‌یي تر دې وړاندې له امریکا سره هر ډول خبرې ممنوع اعلان کړې وې.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه


## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

### له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره




**پښتون ملت پال**

وروسته له هغه چې طالبان په افغانستان کې را پیدا شول، هېڅ وخت هم په کره مانا ونه پېژندل شول. اکثرو خلکو به د هغوی پېژندنه د خپلو گټو پر محور څرخوله. کله چې طالبانو پر غیر پښتنو اسلام پالو جنگسالارانو او جگړه مارو بریدونه وکړل، د دې کسانو پلویانو تحلیل کوونکو به ویل چې طالبان پښتانه ملتپال دي، غواړي چې مرکزي حکومت د پښتنو تر ولکې لاندې جوړ کړي.

طالبان ونه توانېدل د افغاني ټولنې ټول پاړکي خوشاله وساتي. په پای کې، ډېری پښتنو هم له تحریک څخه د سخت دریځی له کبله «کرکه» لرله. طالبانو له هغو پښتنو سیاستوالو مشـرانو سره هم مخالفت کاوه چې له دوی وړاندې تېر شوي وو. د هغوی له شاهي ملت پالو او کمونېستانو هم بد راتلل. له مجاهدینو سره یې هم کلونه جگړې وکړې چې ډېری مشـران او جنگیالي یې پښتانه هم وو. ډېری کندهاري مجاهد مشـران له اسماعیل خان سره یو ځای شول، د سویل او ختیځ افغانستان څخه مجاهد مشـران بیا له احمد شاه مسعود سره یو ځای شول او د طالبانو پر ضد یې جگړه پیل کړه.

که څه هم ډېری طالبان د سویلي ولایتونو له غلجیو او درانیو پښتنو څخه وو، خو په سیاسي اړخ کې یې پر قوم پالنه تکیه نه لرله. که څه هم له بهره هغوی ته د پښتونولۍ پالونکو په سترگه کتل کېدل، خو هغوی ډېر کلیوالي او ځایي دودیز اصول تر پښو لاندې کړي وو. هغوی په افغانستان کې د اسلامي شریعت پلي کول او د خپل لیډلوري پر بنسټ د سولې او ټیکاو راتگ غوښت، همدا یې کلیدي اهداف وو.

که څه هم د طالبانو په لیکو کې د نورو قومونو شمېر کمرنگه و، خو له هغوی سره تاجکو، ازبکو او هزاره وو هم ملتیا کوله. ډېری هغه پښتانه چې له طالبانو سره د سولې او ټیکاو په موخه یو ځای شوي وو، وروسته کلونو کې د هغوی د اېډیولوژیکي سخت دریځی په خاطر ډېر مایوسه شوي وو. د افغانانو په پرتله هغوی له عربو او پاکستانیانو سره ښه چلند کاوه. د هغوی په بهر کې د ځینو مېشتو پښتنو ټکنوکراتانو فکري ملاتړ هم تر لاسه کړی و.

ډېری بهر مېشتو پښتنو ښایي په لومړي سر کې د جنگسالارانو او وروسته بیا د تاجکو، ازبکو او هزاره وو د ملېشو پر وړاندې د طالبانو جگړه خوښوله. خو هغوی ژر له تحریک څخه ځکه زړه بدې شول چې سخت دریځه اېډیولوژي یې پلې کوله. له طالبانو سره د مخالفت یو ټکی دا و چې افغانانو نه غوښتل هغوی افغان هویت په اسلام پال هویت واړوي، خو دا نارضایتی هېڅ کله د هغوی پر ضد په یوه عملي غورځنگ بدلې نه شوې. په افغانستان او پاکستان کې یې د طالب ضد پښتنو مشـرانو له وژلو سره سره د هغوی پر وړاندې د مخالفت غږونه چوپ ساتلي وو. د طالبانو د قدرت پر مهال هغوی پښتو ژبې ته کار وکړ. دا هم د هغو پښتنو علماوو غوښتنه وه چې ډېری یې له سویل څخه وو، هغوی د پخوانیو پښتنو سیاستوالو په څېر نه وو چې پر دوه ژبو پوه شي، دوی هرڅه په پښتو ژبه غوښتل. د طالبانو د تحریک ټولې رسمي چارې پر پښتو وې، ځکه نو نیوکه پرې کېده چې د پښتنو د قدرت لپاره کار کوي، خو په عمل کې حقیقت لا هم پېچلی و. د طالبانو په اړه د پښتنو نظریات سره وېشلي وو. ډېرو یې فکر کاوه، طالبانو ته عربان د پاکستان په لاس پیسې ورکوي چې په افغانستان کې د اسلام په نوم تسلط راولي. روی گټ مان، د افغان لیکوال رسول امین له خولې لیکي چې هغوی دا پروسه اصل کې عرب پالنه وه:

له هدیرو نیولې بیا د هغوی تر زوړ پالنې، له مدرسو تر کتابتونونو، له جگړې تر ملي کلیزې، طالبانو یو شمېر داسې پرېکړې وکړې چې په ترڅ کې یې ملي تاریخ، دود، کلتور او ټولنیز ارزښتونه کمرنگه شول، دا هرڅه یې د عربو او نورو د خوشالولو لپاره وکړل. هغه هېواد چې هېڅا مستعمره نه کړای شوی، د یوه ویاړلي تاریخ لرونکی دی. دا خاوره د اسیا څلور لارې وه، خو اوس د نړۍ له گوټ گوټ څخه د راغلو اسلام پالو جگړه مارو ځاله ترې جوړه شوې، اوس ترې د کرکې تعصب مرکز جوړ شوی. بن لادن د عرب پالنې پروسه نه ده پیل کړې، بلکې د هغوی لمسوونکی رول یې لوباوه.

وروسته له هغه چې په ۱۹۷۱ ز کال بنگلدېش له پاکستان بېل شو، پاکستاني مشـرانو ته په افغانستان او پاکستان دواړو کې د پښتنو تنظیم شوی ملت پال یووالی د گواښ په توگه ښکاري. د اسلاماباد له انده، له طالبانو ملاتړ له پان اسلامېزم ملاتړ و چې په ټولیزه توگه له پښتون ملت پالنې سره د ټکر په مانا و، ځکه نو اسلاماباد د طالبانو ملاتړ کاوه. له طالبانو سره د ملاتړ په ترڅ کې د پاکستان بله اساسي موخه په افغانستان کې د هند، روسیې او ایران لپاره د پښې اېښودلو د ځای نه ورکول و، ځکه طالبانو یې د یوه بلاک په توگه ملگرتیا کوله.

د پښتنو په منځ کې جغرافیایي کرښو دا تشه راوړې چې دلته د پردیو له لوري پردۍ اېډیولوژۍ پلې کېږي. ورته لاسوهنو د پښتنو په ځانگړې توگه په افغانستان کې د شاهي پلوو، ملت پالو او عصري قومي مشـرانو او پوهانو له لوري د معاصرې ملت پالنې را پیل شوی بهیر له خاورو سره خاورې کړ. د پښتنو هغه یووالی یې هم مات کړ چې پکې دیني محافظه کار عالمان د انگرېزانو د استعمار پر ضد له ملت پالو پښتنو سره یو ځای شوي وو. له دې لاسوهنو سره اصلاح غوښتونکو د عصري پښتنو او محافظه کاره دیني علماوو تر منځ درځ راغی چې په ترڅ کې یې د عصري پالنې پلویانو هغه اند په اوبو لاهو کړ چې غوښتل یې له لوېدیځوالو، لېبرالو او ټولنیزو ارزښتونو سره برابر سیاسي بنسټونه جوړ کړي.

**دوام لري...**

# څلوېښت کاله په توپان کې

اکسوس کتابپلورنځی

د پخواني ولسمشر حامد کرزي د دفتر رییس، چې د ده په خبره، د ارگ له مرچ او مالگې نیولې له سپینې ماڼۍ سره تر مذاکرې پورې یې په هرڅه کې مسوولیت درلود، د خپلو خاطراتو په تازه کتاب«څلوېښت کاله په توپان کې» کې د افغانستان او متحده ایالاتو د اړیکو او د کرزي او سپینې ماڼۍ ترمنځ له جنجالونو جالبې کیسې لري.

«څلوېښت کاله په توپان کې» د عبدالکریم خُرم د ژوند سړې تودې، کورني ژوند، جهاد او زده کړو، خاطرې، اطلاعاتو او کلتور وزارت کې د مسوولیت او د افغانستان د سیاست او قدرت د ماڼۍ (ارگ) تصویر ښیي.

د کرزي دوره د افغانستان او متحده ایالاتو په اړیکو کې له جنجالونو ډکه دوره گڼل کیږي.

د افغانستان او متحده ایالاتو د اړیکو لوړې ژورې، د افغانستان په سیاست کې د ښکیلو څېرو لیدلوري، له پاکستان سره روابط، د کرزي او سپینې ماڼۍ ترمنځ د ترهگرۍ ضد جگړې پر څرنگتیا، ستراتیژیک او امنیتي تړون، ملکي مرگ ژوبلې، بگرام زندان او د زندانیانو پر انتقال ناندرۍ، قطر دفتر، له امریکایي چارواکو سره د کرزي لفظي شخړې او مجادلې او د ۲۰۱۴ ز کال ټاکنې او ولسمشر غني ته د واک انتقال د دغه کتاب د محتوا برخې دي.

«څلوېښت کاله په توپان کې» له خپلې کابینې او نږدې دوستانو څخه د کرزي د بیزارۍ او له امریکایي چارواکو سره د هغه د لفظي شخړو او توندو ډیالوگونو حکایت کوي. لیکوال وایي، د ۲۰۱۲ ز کال په اگست کې د متحده ایالاتو او افغان حکومت ترمنځ د زندانیانو د انتقال پر سر اړیکې کړکېچنې شوې. پخواني ولسمشر حامد کرزي ټینگار درلود، چې دغه زندان زر افغان حکومت ته وسپارل شي، خو د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان جنرال جان الن او په کابل کې د امریکا سفیر د زندانیانو د اداري توقیف او ساتلو غوښتنه درلوده. د دواړو خواوو ترمنځ په ارگ کې خبرې توندې شوې:

«کرزي امریکایي چارواکو ته وویل، چې د زندان موضوع نوره پای ته رسیدلې ده.

جنرال الن په لوړ غږ وویل: تاسې پاتې راغلي یئ

کرزي وویل: بهرنیان نور د زنداني کولو حق نه لري

الن، کراکر ته وکتل او وېې ویل: سفیر صیب دا خبرې نوره نتیجه نه ور کوي

کرزي وویل: د افغانستان اشغال نور باید پای ته ورسیږي

جنرال الن په داسې حال کې، چې له ځایه یو څه پورته شوی و، وویل: له وخته مو مننه».

له دې مکالمې وروسته کرزي د خپل دفتر رییس ورغوښتی و او هغه برېښنالیک یې ور ښودلی و، چې په نیویارک کې د افغانستان نمایندهگۍ رالیږلی و. په برېښنالیک کې ویل شوي وو، چې دوی ته د ور رسېدلو معلوماتو له مخې، جنرال الن غواړي کرزی د خپل یوه ساتونکي (پي پي ایس) په وسیله ترور کړي.


خُرم چې د پخواني ولسمشر ښی لاس او هغه په سیاستونو او دریځونو کې ټاکونکی کس گڼل کیږي، وایي، امریکایانو بگرام زندان ته له حده ډېر ارزښت ورکاوه، خو کرزی د بهرنیانو د زندانونو، شپنیو عملیاتو او زنداني کولو مخالف و. د هغه او خُرم په باور، دا پر جگړه تېل پاشل او د جگړې د لیکو تودول وو.

خو کرزی یوازې له امریکایانو سره لاس او گریوان نه و. هغه په خپله کابینه او نږدې کسانو کې هم په دې برخه کې ډېر کم ملگري لرل.

د خُرم په باور، کرزی د ملکي مرگ ژوبلې، بگرام زندان او امنیتي تړون په برخه کې د کابینې ډېرو غړو یوازې پرېښی و. د زندانیانو د انتقال په تړاو د اعلامیې خپرولو پر وخت سپنتا له کرزي غوښتي و، چې د افغانستان د منتخب ولسمشر په حیث له بدې لهجې ډډه وکړي. کرزي یې په ځواب کې ویلي وو: «زه ولسمشر نه، بلکې د دغه مزدور حکومت رییس یم. زه ولسمشر نه، بلکې د مزدورانو باشي یم».

یاد کتاب د کرزي او کابینې ترمنځ یې دې بې باوریو، له امریکا سره د امنیتي تړون، بگرام زندان او ځینو نورو مهمو مسایلو په اړه جالبې خبرې لري.

مینه وال کولای شي یاد کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت تر لاسه کړي.






## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | څلوېښت کاله په توپان کې | عبدالکریم خرم | ۴۷۰؋ |
| ۲ | د کرنیزې پراختیا اقتصاد | محمود مهروال | ۲۲۰؋ |
| ۳ | فرهنگ اوزبیکی - دری | رحیم ابراهیم | ۴۰۰؋ |
| ٤ | خپل ماشوم سم وروزئ | ډاکټر سال سیرور | ۱۶۰؋ |
| ۵ | کرښې رنگینې | آمر محمد ذاکر افضلی | ۶۰؋ |
| ٦ | له ژوند مې دا زده کړل | دوکتور مصطفی السباعی | ۸۰؋ |
| ۷ | د ښځې اسلامي آزادي (د افراطیانو د شبهاتو ځواب) | د کتور محمد عماره | ۸۰؋ |
| ۸ | زرتار | عطامحمد میاخیل | ۱۰۰؋ |
| ۹ | بنسټیز حقوق او سیاسی بنسټونه | دوکتور محمد طاهر هاشمی | ۱۵۰؋ |
| ۱۰ | یوسف بن تاشفین | نسیم حجازی | ۱۵۰؋ |
| ۱۱ | کلیسا او اور | | ۱۳۰؋ |
| ۱۲ | وروستۍ جگړه | | ۱۴۰؋ |
| ۱۳ | د حرم تر دیاره | | ۸۰؋ |
| ۱٤ | سپین ټاپو | | ۱۰۰؋ |
| ۱۵ | وروستی مورچل | | ۱۲۰؋ |
| ۱٦ | د غازي داستان | | ۷۰؋ |
| ۱۷ | خاورې او وینې | | ۱۳۰؋ |
| ۱۸ | د تروږمۍ مسافر | | ۱۶۰؋ |
| ۱۹ | وطن یا کفن | نور البشرنوید | ۱۵۰؋ |
| ۲۰ | داوودخان در چنکال ک ج ب | الف هارون | ۱۳۰؋ |
| ۲۱ | مختصر تاریخ مطابع و جرائد افغانستان | عزیز الدین وکیلی پوپلزایی | ۵۰۰؋ |
| ۲۲ | د ناکامو دولتونو رغاونه | محمد اشرف غنی او کلیر لاکهارټ | ۳۰۰؋ |
| ۲۳ | توفان در افغانستان جلد اول ودوم مکمل | الکساندر لیاخفسکی | ۳۷۰؋ |
| ۲٤ | د حیواناتو فارم (ناول) | جورج او رویل | ۸۰؋ |
| ۲۵ | نازو( ناول ) | اصف مشال | ۶۰؋ |
| ۲٦ | ACTIVE SKILLS FOR READING INTRO CD | Neli J anderson | ۲۴۰؋ |
| ۲۷ | ACTIVE SKILLS FOR READING 1 CD | | ۲۰۰؋ |
| ۲۸ | ACTIVE SKILLS FOR READING2 CD | | ۲۰۰؋ |
| ۲۹ | ACTIVE SKILLS FOR READING 3 CD | | ۳۰۰؋ |
| ۳۰ | ACTIVE SKILLS FOR RREADING 4 CD | | ۳۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۰۵ |
| € | ۸۶,۸۰ |
| Rp. | ۴۹۵ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۴,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانۍ

# د بازارموندنې مفهوم، اهمیت او تاریخچه

ګلاب بهار

د کاروبار لپاره هغه که په لویه سطحه وي او که په کوچنۍ، د بازارموندنې د مفهوم سمه پېژندنه ورته یو ګټور ګام دی. هغه مفهوم چې کېدای شي له علم او هنر نه یې ترکیب شوی وبولو، چې د اوسني عصر نویو تحولاتو او پرمختګونو ته په کتو سره د یوه کاروبار د بقا او پایښت لپاره لومړنی شرط دی.

په هر صورت، لومړی باید پر دې پوه شو چې د بازارموندنې ډېر انعطاف منونکی مفهوم له کاروبار سره دا مرسته کوي، چې له هرې زمانې او هر ډول بدلونونو سره په ښه توګه مبارزه وکړای شي. په اوسني عصر کې هم باید دې ته پام وشي، چې بازارموندنه د کاروبارونو د پایښت او بقا لپاره څه ډول لاره پرانیزي؟ نن ورځ چې پېرودونکي په کاروبار کې لومړنۍ خبره کوي او ټول کاروبارونه د خپلو رقیبانو پر وړاندې د هغوی د ساتنې او جذب په هڅه کې دي، له دې ستونزې سره مخ کېږي، چې پېرودونکي ډېر توانمند، ځیرک او په اسانۍ سره نه پیداکېدونکي دي او دا په داسې حال کې ده چې د دوی د جذب لپاره د سیالو کاروبارونو ترمنځ رقابت یو ستونزمن کار دی؛ نو د دې لپاره چې نوموړو ستونزو ته د حل لاره پیدا شي، تر هر څه اړینه یې دا ده چې په دې فکر کې شو چې د بازارموندنې په کومه لاره فکر وشي، څو یو تولیدي کاروبار یا تصدي د ازاد بازار له لارې خپل کاروبار ته پایښت ورکړي. پس د دې لپاره اړینه ده چې لومړی د بازارموندنې پر مانا او مفهوم وپوهېږو.

### د بازارموندنې تعریف

ډېر خلک خرڅلاو او د خرڅلاو لپاره د تبلیغاتو په څېر نور ورته فعالیتونه بازارموندنه بولي؛ خو خرڅلاو د بازارموندنې له دندو څخه یوه دنده ده او د بازارموندنې د اجزاوو یو مهم جز بلل کېږي. د پېټر ډاکر (Peter Dakher) له نظره، د بازارموندنې هدف دا دی چې ډېر خرڅلاو تر سره کړای شي او دا شاید ممکنه نه وي، چې پېرودونکي دې د هغه له غوښتنو سره د سمو تولیداتو د وړاندې کولو له مخې وپېژندل شي، دا په دې مانا نه ده چې خرڅلاو او تبلیغات مهم نه دي، ځکه پر دې سربېره چې د بازارموندنې د ځنځیري فعالیتونو له ډلې څخه دي، د بازارموندنې د اوزارو په توګه هم کار ترې اخیستل کېږي؛ څو پر بازار باندې اغېزه وښیندي.

د بازارموندنې کلاسیک تعریف په هغه ډله فعالیتونو کې شامل دی، چې توکي او خدمات له تولیدي او خدماتي واحد نه مصرف کوونکو ته رسوي، داسې تعریف ناقص او نیمګړی دی او د بازارموندنې فعالیتونه یوازې د مصرف او تولید ترمنځ په تر سره شویو دندو پورې محدودوي. د دې فعالیتونو له ډلې کېدای شي د توکو بسته بندي، د محصولاتو تجارتي نښې او نوم اېښودنې، د توضیع کانالونه، عمده فروشي، دلل او جلاب، پرچون فروشي، حمل او نقل، تجارتي معلومات، قېمت اېښودنې او مصرفي اعتبارات یادولای شو.

د توکو له خرڅلاو وروسته دندې کېدای شي د پلورل شویو توکو ساتنه او تعمیر، د توکو د ضمانت قرارداد برابرونه، محصول او یا جنس، پېرودونکو ته د خدماتو وړاندې کول او د پلورل شوو توکو په اړه د پېرودونکو د خوښۍ او ناخوښۍ په اړه د اطلاعاتو راټولونه او د سازمان د ټولو چارو، په ځانګړې توګه د توکو د ډیزاین په اړه د پېرودونکو د وړاندیزونو راټولونه یادولای شو. له تولید، توضیع او خرڅلاو نه پر وروستنیو فعالیتونو سربېره، په بازارموندنه کې د بازار مدیریت هم ځینې فعالیتونه لري چې د هغو لمنه له پورتنیو دریو حوزو څخه په یوه پورې هم ځانګړې نه ده. د بازارموندنې د دغو فعالیتونو له ډلې نه کېدای شي د بازار په اړه څېړنې، د بازار محیطي شرایط، د بازار قوانین او مقررات، د بازار د اطلاعاتو سیسټمونه، د بازارموندنې په چارو کې اخلاقي تعهدات او نړیواله بازارموندنه یادولای شو. نو په دې ترتیب روښانه کېږي، چې د بازارموندنې لمنه ډېره پراخه ده او ډېر لوی او پراخه اقتصادي فعالیتونه پکې شامل دي، په همدې سبب د پرمخ تللو هېوادونو شاوخوا نیمه برخه د بازار د چارو کسبګر جوړوي. په مخ پر وده هېوادونو کې ټولې یادې شوې دندې د شرکتونو او فابریکو په وسیله، چې په بازار کې لوی لاس لري، تر سره کېږي؛ خو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو فعالیتونو ته په کتو سره دغه هېوادونه د نورو فعالیتونو په پرتله، د بازارموندنې په برخه کې ډېر فعالیتونه تر سره کوي.

د بازارموندنې لپاره د بېلابېلو پوهانو له لوري بېلابېل تعریفونه شوي دي، چې ځینې هغه یې په لاندې ډول دي:

بازارموندنه یو اقتصادي بهیر دی، چې مانا یې د ټاکلو بیو او پولي ارزښت په مقابل کې د اجناسو، خدماتو او تولیداتو تبادله او معاوضه ده.

د بازارموندنې لپاره دلته باید ووایو چې په عمومي توګه بازارموندنه د خرڅلاو ، تبلیغاتو، نشراتو، توضیع، د خرڅلاو توکو په اړه د مشتریانو تشویق او همدارنګه په دې اړوند د پلان شویو عملیاتو او د فعالیتونو او هڅو ته بازارموندنه ویل کېږي.

بازارموندنه د تولیداتو او د اجناسو لپاره د مطلوبه خدمتونو تر سره کول، په مناسب وخت کې د اجناسو عرضه او بازار پیدا کول او د پلانونو طرح او تطبیقول دي. د دغه ډول پلانونو په ترڅ کې د مال التجاري خاوند اجناس په آسانه مستهلکینو ته وړاندې کوي او بازارموندنه د مستهلک او مؤلد ترمنځ یوه اتصالي کړۍ جوړوي.

بالاخره ویلی شو چې بازارموندنه د خرڅلاو، توضیع او دې ته ورته کارونو سره سروکار لري، په دې منظور چې د بشر د اړتیاوو او غوښتنو د پوره کولو سبب وګرځي.

**لاندې کړنې د بازارموندنې اصلي فعالیتونه بلل کېږي:**

محصول ته پراختیا ورکول
څېړنه
اړیکې
توضیع
قېمت اېښودنه
خدمتونه

سره له دې چې موږ بازارموندنې ته د پلورونکي په واسطه د کسب د ادامې د عنوان په سترګه ګورو؛ خو پېرودونکي هم د بازارموندنې فعالیتونه تر سره کوي، مصرف کوونکي هغه مهال بازارموندنه کوي، چې د خپل توان وړ توکي د پېرودلو لپاره ولټي.

د یوه شرکت نمایندګي هغه مهال بازارموندنه کوي، چې د پلورونکو په لټه پسې وي او د ښو شرایطو لپاره چنې وهي. د پلورونکو بازار داسې یو بازار دی، چې هلته پلورونکي د ډېر توان درلودونکي وي او پېرودونکي اړ دي، چې ډېر دقیق او ځیرک وي. د پېرودنې په یوه بازار کې پېرودونکي د ډېر توان درلودونکي وي او پلورونکي مجبور دي، چې ډېر فعاول او هڅاند واوسي.

### د بازارموندنې تاریخچه

په تاریخي لحاظ بازارموندنه هغه وخت منځته راغله، چې فرد یا سازمان تصمیم ونیو، څو خپلې اړتیاوې او مطالبات د مبادلې له لارې رفع کړي. په کومه کې چې دوه لوري باید موجود او هر لوری د بل لوري لپاره یو با ارزښه شی ولري او هر لوری د بل لوري د پیشنهاد د قبول یا رد جواز ولري. په دې توګه ګورو چې مبادله له هغو دریو طریقو څخه یوه هغه ده، د کومې په و اسطه چې کېدای شي اړتیاوې رفع شي. ځکه کله چې موږ یو شي ته اړتیا ولرو، نو کولی شو چې هغه خپله جوړ کړو، د غلا یا د فشار او اجبار رد کوم شکل په واسطه یې لاس ته راوړو او یا کوم با ارزښه شی هغه شخص یا سازمان ته عرضه کړو، څوک چې زموږ د نظر وړ شی یا خدمت لري او حاضر دي چې هغه زموږ د عرضه شوي محصول په مقابل کې مبادله کړي او صرف همدغه اخري شکل له مبادلې څخه عبارت دی، چې په اړه یې بازارموندنه صورت نیسي.

د عمده پلورنکو یو محدود شمېر چې د خپلو پلورنو په ساحو کې یې په پرچون پلرونکو باندې د محصولاتو د خرڅلاو مسوولیت درلود، معامله کول. ولې په هغو ځایونو کې چې محصولات پر عمده پلورنکو باندې په خرڅلاو رسېدلي وو، مؤلدینو بیا هم د تولید په نسبت بازارموندنه کم اهمیته بلله او د بازارموندنې تقریباً ټول کار د عمده پلورنکو او پرچون پلورنکو لخوا تر سره کېده.

په دې مرحله کې چې د شلمې پیړۍ تر لومړیو پورې یې د امریکا په متحده ایالاتو او وروسته یې په نورو هېوادونو کې دوام وموند، اقتصادي شرایطو مؤلدینو ته د دې زمنیه مساعده کړې وه، څو بازارموندنې ته کمه توجه وکړي. اقتصاد که څه هم چې په بېړه یې رشد کاوه، اصلاً زراعتي و او د تولید شوو شیانو عرضې په ندرت سره د تقاضا کفایت کاوه.

په دې شرایطو کې مؤلدینو په اسانۍ سره کولی شوی، چې خپله پاملرنه تولید ته واړوي او بازارموندنه اصلاً منځنیو خلقو ته پرېږدي، خو د شلمې پیړۍ په لومړیو دریو لسیزو کې په تولید کې له بې ساري ډېرښت سره صنعت په صنعت د کتلوي تولید روشونو اختیار کړل او په دې توګه د ۱۹۳۰مو کلونو په لومړیو کې د ډېرو تولید شوو شیانو عرضې له تقاضا څخه تجاوز وکړ او مؤلدین له یوې خوا د تولید د اضافي ارزښت او له بلې خوا د مشتریانو د لاسته راوړو په خاطر د سیالۍ له زیاتوالي سره مواجه شول. پرمخ زیاتوالي سیالۍ کې د بریالیتوب په منظور هغوی خپلو تلاشونو کې بازارموندنې ته د زیاتې توجه په اړولو پیل وکړ. د مصرفي شیانو په ساحه کې مؤلدینو کوشش کاوه.

د نړیوال اقتصادي بحران (۱۹۲۹-۱۹۳۳) په کلونو کې چې خارجي پورونو د ډېرو هېوادونو اقتصاد فلج او د پیردونې قدرت له نه لرلو سره مخامخ کړی و، پرمختللي هېوادونه په اروپا، امریکا، او لرې ختیځ کې د بازار د لاسته راوړلو په خاطر له یو بل سره په رقابت کې ولویدل. له بلې خوا د مستهلک د پیرودنې قدرت د انجماد د ټولو محصولاتو لپاره په تقاضا کې د کموالي باعث شو او د صنعتي شیانو په ساحه کې حتی وضع ډېره جدي وه، چېرې چې تقاضا په بشپړه توګه له منځه تللې وه. دا امر د دې سبب شو چې شرکتونه په نړیواله سطحه خپل رقیبان او د بازار تحولات جدي وګڼي، لګښتونه کنټرول، د ټکنالوژیکي تحولاتو، د مصرفي موادو ډول، د کار ابزارو او د مدیریت روشونو ته پوره توجه وکړي. دلته دا چې د بازارموندنې طریقو او فنونو اهمیت وموند او ډېرو لوړو پوړو مدیریتونو درک کړه، چې یو څه نور کار هم باید د بازارموندنې په اړه صورت ونیسي، ځکه له منځنیو خلقو سره منځ ته راغلي تماسونه او اشتهار کافي نه وو، څو د شدید رقابت وضع کمه کړي. ډېرې کمپنۍ متقاعد شوې چې یو ځل بیا باید له مستهلکینو او استفاده کوونکو سره تماس ونیسي، ځکه هغو مؤلدینو چې د مخه یې په غیر رسمي، ولې موفقانه توګه د مارکېټ د نبض اندازه ګیري کوله، درک کړه چې د مشتریانو او د هغوی تر منځ د منځي حلقو په زیاتیدو سره له دې وروسته د مشتریانو د اړتیاوو او مطالباتو په اړه خودبخودي احساس نه شي کولی. څېړنو وښوده چې د شرکتونو نه بریالیتوب د بازارموندنې له فنونو څخه په استفاده کې د هغوی له ناتوانۍ څخه نشات کړی دی. هغوی د بازار تحولات او د مشتریانو په مصرفي نمونو کې تغیرات په نظر کې نه دي نیولي او له پرمختللې بازارموندنې څخه د کار اخیستنې پر ځای یې خرڅلاو ته زیاته پاملرنه کړې او د مشتري د رضایت په نسبت یې د زیاتې ګټې لاس ته راوړلو ته ترجیح ورکړې؛ ولې داسې شرکتونه هم وو چې بریالیتوبونه یې د مشتریانو اړتیاوو، بازار او د محصولاتو د کیفیت د ښه والي په اړوند، د مشتریانو مطالباتو ته له پوره پاملرنې څخه منځ ته راغلي او بازارموندنې یې د کاري ستراتیژۍ په اولیت کې قرار درلود.

په دې توګه ورو ورو د بازارموندنې د تحقیق له روشونو څخه په پراخه توګه ګټه اخیستل شروع او ورسره سم د تشکیلاتي تغیراتو د منځ ته راوړو ضرورت هم درک شو، چې د همدې ضرورت پر بنا، د ۱۹۴۰مو کلونو په لومړیو کې ډېریو تصدیو همدا تغیرات منځ ته راوړل. کمپنیو ځانګړې ولې سره مربوط ډېپارټمنټونه تاسیس کړل، څو خرڅلاو، اشتهار، د خرڅلاو د تشویق او د بازارموندنې د تحقیق وظیفې سرته ورسوي. لکه څنګه چې بعضو کمپنیو ټولې دغه وظیفې د مارکېټنګ په یو بخش کې د بازارموندنې د منیجر یا د بازارموندنې په چارو کې د کمپنۍ د رییس د مرستیال تر نظارت لاندې او په ځینو نورو کمپنیو کې ټاکلو رییسانو تر ټاکلو عناوینو لاندې معین منیجران توظیف کړل او د منفردو یا ګروپي محصولاتو د بازارموندنې کامل مسوولیت یې ورته وسپاره، چې په دغو دواړو سازماني نوو ترتیباتو کې د تولید د لوري ورکونې له منجمنټ څخه د بازارموندنې د لوري ورکونې د منجمنټ یو واضح میلان په سترګو کېده.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily





چهارشنبه د ۱۳۹۸ د وږي شپږمه | د ۲۰۱۹ د اګسټ ۲۸مه | ٤٤۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳۷ | ۳۹ | ۳۷ | ۳۹ | ۳۵ |
| ۱۸ | ۱۹ | ۲۰ | ۲۳ | ۲۸ | ۲٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۵ | لمر ختل ۰۵:۲۲ | ماسپښین ۱۱:۵٦ | مازدیگر ۰۳:۳۵ | ماښام ۰٦:۲۸ | ماخوستن ۰۷:۵٦

## نړۍ




## ټرمپ: په مناسبو شرایطو کې به د ایران له ولسمشر حسن روحاني سره وګورم

۳

## روسیې د امریکا د کانګرېس غړي ران جانسن ته د ویزې له ورکړې ډډه کړې ده



امریکایي سناتور ران جانسن ویلي چې د روسیې حکومت هغه ته د ویزې له ورکولو ډډه کړې ده.

ران جانسن د امریکا په کانګرېس کې د ویسکانسن ایالت له جمهوري غوښتونکو سناتورانو څخه دی.

دا په داسې حال کې ده چې نوموړي د امریکا د کانګرېس د دواړو ګوندونو په یوه پلاوي کې روسیې ته د تګ پلان درلود.

دغه راز ران جانسن د امریکا د سنا د بهرنیو اړیکو په کمېټه کې د اروپا او سیمه ییزو امنیتي همکاریو د برخې مشر هم دی.

د جانسن له دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې هغه پلان درلود، چې د روسیې له حکومتي چارواکو، په روسیه کې له امریکایي سوداګرو، د مدني ټولنې له سازمانونو او نورو کسانو سره وګوري، خو په دغه خبرپاڼه کې دا نه ده په ډاګه شوې چې جانسن دقیقاً څه وخت روسیې ته د تګ اراده درلوده.

په خبرپاڼه کې په دې تړاو هم وضاحت نه دی ورکړل شوی، چې له جانسن سره په پلاوي کې د نورو غړو ویزې هم رد شوې که نه.

خو په امریکا کې د روسیې سفارت د دې بیان تر خپرېدو وروسته ویلي، چې جانسن په دې سفارت کې د ویزې غوښتنه نه ده کړې او روسیې ته د تګ د پلان په اړه یې هم معلومات نه دي ورکړي.

## امریکا: هند او پاکستان د کشمیر مسئله پخپله حل کولی شي



وروسته له هغې چې په دې وروستیو کې د هند حکومت د کشمیر د کورواکۍ د پای ته رسېدو اعلان وکړ، ورسره سم د دغه هېواد او پاکستان ترمنځ اړیکې ترینګلې شوې. د دواړو هېوادونو د پوځیانو ترمنځ څو ځله نښتې هم وشوې، خو تازه د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، هند او پاکستان د کشمیر پر سر خپل کړکېچ پخپله هوارولی شي، خو که د ده منځګړیتوب ته اړتیا لري، نو چمتو دی چې په دې برخه کې مرسته وکړي.

ولسمشر ټرمپ پر دې موضوع د هند له لومړي وزیر نرېندرا مودي سره خبرې هم کړې دي. ټرمپ په دې لیدنه کې ویلي چې د منځګړیتوب لپاره چمتو دی، خو نرېندرا مودي یې په ځواب کې ویلي چې وضعیت تر کنټرول لاندې دی.

دا په داسې حال کې ده چې کشمیر د هند او پاکستان ترمنځ په دوو برخو وېشلې سیمه ده، چې دواړه هېوادونه یې د بشپړ ملکیت ادعا کوي او له همدې کبله د دغو هېوادونو ترمنځ پرې څو ځله سختې جګړې هم شوې دي، خو د دواړو لوریو ترمنځ وروسته له هغې یو ځل بیا ترینګلتیا زیاته شوه، چې نوي ډیلي له هندي کشمیره د کورواکۍ ځانګړی امتیاز واخیست او په دې سیمه کې یې اضافي امنیتي تدابیر ونیول.

## وزارت داخله ۳٦ درصد سفارشات کمیتهٔ «میک» را عملی نکرده است



گزارش کمیتهٔ «میک» نشان می دهد که وزارت امور داخله، در شش ماه از ٥٦ سفارش پیشنهادی این کمیته، سه سفارش را کاملاً عملی نموده و روی عملی شدن ۲۸ سفارش دیگر کار می کند.

کمیتهٔ مستقل مشترک نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری (میک)، دیروز نخستین گزارش نظارتی در مورد وزارت امور داخله را منتشر کرد.

این کمیته می گوید که اولین گزارش ارزیابی آسیب پذیری‌های فساد اداری وزارت امور داخله را در فبروری ۲۰۱۹ میلادی به نشر رسانده است.

منبع می افزاید که بر بنیاد یافته‌های این کمیته، ساحات کلیدی آسیب پذیری فساد اداری در بخش تدارکات، منابع بشری و لوجیستیک این وزارت را شناسایی نموده بود.

باری سلام عضو کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری گفت که این کمیته، پس از یک سلسله مطالعات، ساحات آسیب پذیر در بخش‌های تدارکات، لوجیستیک و مدیریت منابع بشری را حدود شش ماه قبل در این وزارت شناسایی و ٥٦ سفارش را ارایه کرد.

وی افزود که تا حال از میان این سفارش‌ها، سه سفارش کاملاً تطبیق شده، ۲۸ سفارش در حال تطبیق است، پنج سفارش به دلیل تغییرات ساختاری در وزارت، از حالت تطبیق خارج شده و آرشیف شده است.

موصوف افزود: «برای تطبیق هر سفارش، زمان مشخص در نظر گرفته شده است و تعداد زیادی از سفارش‌ها در زمان مشخص آن تطبیق شده‌است و سفارش‌هایی هم هست که تا به حال تطبیق نشده است و سفارشات باقی مانده باید تا شش ماه دیگر تطبیق شود».

وی گفت، بیشتر سفارشی که تا به حال تطبیق شده یا در حالت تطبیق قرار دارد، در بخش تدارکات و مدیریت منابع بشری این وزارت بوده است.

## ژوند

## د خدای پاک پر نعمتونو شکر وباسئ!



هغه کسان چې د خدای پاک پر نعمتونو شکر باسي، تل له نورو څخه متفاوت ژوند لري او په ډېرې اسانۍ سره کولای شي له ستونزو ځان وباسي، مثبت احساسات لري او ډېر هغه څه ته چې په ذهن کې یې دي، ځان رسولای شي؛ ځکه دوی هره ورځ هغه څه چې لري یې، که هر څومره کم هم وي د خدای پاک شکر باسي، یو وخت به و وینئ چې د خوشالیو سیل دربانديې را روان وي، کله مو چې دغه عادت ته په ځان کې روزنه ورکړه، پر یوه خوشاله، مثبت فکره او سالم انسان بدلېږی. خدای پاک خپله وایي، که مو زما په درکړو نعمتونو شکر و ایست، هغه ده چې درته زیات به یې کړم.

لوړې هیلې ولرئ!

کله چې لوی فکر کوی او لوړې هیلې لری، ډاډه اوسی چې ضرور به خپلو موخو ته رسېږی. د ورو فکرونو پر ځای لوی هغه وکړئ، څو مو ذهن پراخ شي او په اسانۍ سره وکولای شی خپلو موخو ته ورسېږی. زموږ فکر زموږ د ژوند زیږنده دی، څه ډول چې فکر کوی، هغسې به ژوند کوی. نو غوره او لوی فکر وکړئ، څو غوره ژوند ولری.

## که مو وینه کمه وي، دغه مېوې وخورئ!



روغتیا پالان وایي، ځینې هغه خواړه چې په خپل ترکیب کې اوسپنه لري، که له لیمو سره وخوړل شي، د بدن د اړتیا وړ اوسپنه پوره کولی شي.

**لیمو او مالټه:**

لیمو او مالټه له ویټامین سي څخه مالامال مېوه ده او د روغتیا لپاره ګټوره بلل کېږي. کولی شی په سهارنۍ کې هم د مالټې له جوسو څخه ګټه واخلی. دغه راز په سلاد کې د لیمو په کارولو سره به مو د بدن د وینې له کمښت څخه مخنیوی کړی وي.

**الو:**

الو د مېوو له ډلې هغه مېوه ده چې ډېرې روغتیایي ګټې لري. دغه خوندوره مېوه هضم اسانه کوي، قبضیت او التهاب له منځه وړي، دردونه ارامومي او په ټوله کې د اوسپنې سرچینه بلل کېږي چې دغه څه بیا د کم خونۍ مخه نیسي.

**مڼه او ناک:**

مڼه خوندوره او مغذي مېوه ده، کېدای شي تاسو هم اورېدلي وي چې په ورځني ډول د یوې مڼې خوړل مو له ډېرو ناروغیو ژغوري. دغه راز ناک هم د هغو مېوو په ډله کې راځي چې د مڼې په شان د بدن اوسپنه پوره کوي. د دې لپاره چې له دې دواړو مېوو څخه مو په سم ډول ګټه پورته کړې وي، ښه ده چې د دواړو مېوو ترکیب جوړ او بیا نوش جان شي.